AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۶/۰۴/۰۵

# ناقانونه ښکار

دغسي خبرونه سخت خوند راکوي. د دې وطن د هر ژوندي مخلوق، وينه دې ارزښتمنه اوسي.
د بې رحمه ښکاريانو له شامته زموږ ځنګلونه او غرونه له وحشي ژوو او مرغانو او خواږه سيندونه مو له کبانو خالي شوي دي.
يو اوږده ښکار بنديز ته اړتيا ده چې بيرته مو وطن رنګين شي.
ګرچه پخوا به هم څو ځلې، د ښکار د بنديز ډنډورې وغږول شوې؛ خو بيا چې به دې کتل، نو رسمي کسانو به سيندونو ته بمونه غورځول او د کبانو قتل عام به يې کاوه.
خير،
هغه وخت خو ناامني او خپلسري پلمه کېده خو اوس چې امن دی او خپلسري نشته؛ نو
هيله ده چې کوم شی منع ګرځول کېږي، هيڅ ډول فردي استثنا ونه لري او حکم پر ټولو يو شان تعميل شي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ